پوهندوی دوکتور سیدحسام (مل)

# دامپراطوریو د نسکوریدو عوامل اودهغه په رنا کی

# دامریکی امپراطوری د نسکورید وپه درشل کی

جیم نلسون لاک لیکی : کله چی  مونږ د نړی دری زره کلن تاریخ ته پام واړواوپه ژور پا ملرنی سره  یی وڅیړو ، مونږته به څرګند  شی چی تمد نونه دملتونو د ګډ وهلو ځلو اودنه سترې کیدونکی فعالیتونو اوددوامداروهڅو اواند په نتیجه کی مینځ ته راغلی یا ایجاد شوی ، مګر  په  پای کی د هغه ایجا د شوی تمد نونو د نیکمرغی ستوری له آسمانه غورځید لی اونابودی سره مخامخ شوی دی . دنړی تاریخ دقومونو تاریخ دی ، اودتاریخ په مختلفو پړاونو کی یو قوم دبل قوم په واسطه سره یا مغلوب  شوی او یا  داچی د قومونو په دننه کی شخړی ، بی اتفاقی راپیدا شوی  اوله مینځه تللی دی . جیم نلسون زیاتوی :لکه څنګه  ما چی د تیرو تمد نونو د راپرځید لو اود نسکورید لو تاریخ ولوست ، وروسته  له هغه  په  حیرت اوفکر کی ولویدم اوهغه داچی ،هغه څه  چی می لوستلی وه نن په خپل هیواد او په معاصر نړی کی هغه دزوال مشا بهتونه وینم کوم چی تیر تمدنونه په انقراض سره مخامخ شوی وه ،  اوپه عین وخت کی دا حیرانتیا هم راته  پیدا کیږی ،چی دنړی خلک ولی د(کارتاژ) تمد ن  دهغه دوخت دولت ، د لرغونی یونا ن تمد ن د مصر، دروم  ،دفرانسی اود اسپانیا د لویا نو اوپاچایانود د بد بی اودزوال تاریخونونه عبرت نه اخلی اود خپل دعصر دموجوده تمدن سا تنه نه کوی اویادننی تمدن دزوال مخه نه رانیسی، او  یا ولی  د  تمدن  د زوال د مساعد  کونکی فکتوروںو په مخه نه ودریږی اودهغه ریشی له بیخه نه باسی .؟ ددی دپاره چی موجوده تمد ن وسا تل شی اودهغه د زوال د عواملو  په مقابل کی په هلی ځلی اومبارزه لاس پوری کړولازم ګڼل کیږی چی دتمدن د زوال فکتورنه اودهغه عوامل وپیژنو . د  تمد نونو د  زوال  او  یا د  انقراض  عوامل اوفکتورونه زیات دی اودهغه تمد ن په سیاسی اجتماعی اقتصادی اوفرهنګی وضع اوشاخصو پوری اړین وی ، مګر په  هرصورت د  تمد  ن  په  را نسکوریدوکی دری لاندنی عوامل اساسی اورغنده نقش لری : ١-اجتماعی فساد . ٢ - فرهنګی فساد. ٣- اخلاقی فساد . ١- اجتماعی فساد:  اجتماعی فساد یعنی چی  تولنه  او په ځا نګړی ډول په فساد سره ککړ د تولنی  مجریانو او پیشوایانو

او له قانون څخه سرغړونه داجتماعی فساد غټ ټکی دی .، جیم نلسون په دی برخه کی له دری لاند نی عواملو څخه یادونه کوی: *دقانون گذاری اود قانون د پلی کولوبحران. *اقتصادی هرج ومرج یا گډوډی . *په حال د ودی بیروکراسی یاکاغذ پرانی . ددی د پاره چی د نوموړی موضوع ریښی او دهغه پرتاریخچی باندی پوره پوهاوی تر لاسه کړوچی اجتماعی فساد په کومو دلایلو سره د تمدن په انقراض کی نقش لری لازم برینی چی یو څه تاریخی بس منظر ته یی پام واړو : دلرغونی یونا ن د تمدن دزوال نښی نښانی له ټولو نه مخکی داجتماعی له اړخه ، بی قانونی بی نظمی ، دودونو اورواجونو ته بی احترامی اوپه سپک نظر کتل اونه پاملرنه ، خصوصاً دتولنی د مجریا نو، پانگوالو، بیسواداو لاوبالی ځوان نسل له خوا ،سربیره پرهغه ځنی نور علایم هم د تمد ن په نسکوریدو کی خپل جانبی نقش لوبولی شی چی عبارت دی له : فرهنگ( لکه چی ټولو په دی پوهیږوکوم چی فرهنگ د یوی ټولنی له مادی اومعنوی ارزښتونو څخه عبارت دی چی د تاریخی له نظره د تیرو نسلونو څخه په میراث راپاتی شوی دی ) هنر اودټولنی دگڼ خلکو سرگرمی او دسپورت اود نورو جایزو غوښتنو ته ، نه پاملرنه اوورته سر سری کتل ، اویا دعابداتو اوفرهنگی میراثونو له مینځه وړل هغه نښی نښانی دی چی یوملت دنیستی اودنابودی کندی ته ور غورځوی . یوملت اویا یوتمدن معمولاً هغه وخت ژوندی دی چی لرونکی دفرهنگ ، هنر ،دودونو،رواجونواوځنی ځانگړی کلتوری اوثقافتی شتمنی څښتن وی . د مصردد تمد ن زوال لکه دلرغونی یونان د تمدن دزوال په څیر مینځ ته راغی کوم چی له قانون څخه تمرد اجتماعی فساد او اجتماعی انرشیسم د هغه د نسکوریدو اساسی عوامل اوفکتوررونه تشکیلول ، د هغه تمد ن اقتصاد بحرانی شویه ټولنه کی بی نظمی حاکم اومسلط شو ، لاکن کله چی سکندر مقدونی پرمصر باندی یرغل وکړ اومصر دهغه تر تسلط لاندی راغی ،نوهغه مخکی له هرڅه نه لمړی نظامی اواجتماعی نظم راوستلو ته پام واړول اوبیرته په مصر کی نظم اوقانون پلی شو اما کله چی سکندرمړشو په مصرکی بیا له سره بی قانونی او اجتماعی انرشیسم مسلط وگرځید آوپه همدی دلایلو سره هغه پیاوړی تمدن سقوط اوکندی ته ولویدل . د قرطاج د تمد ن نسکوریدل : مخکی له دی چی دقرطاج دتمد ن دانقراض دعواملوپه اړین څه ووایو ، لازم برینی چی د تاریخی له پلوه ددی مد نیت په هکله یوڅه خبرتیا ترلاسه کړو قرطاج یا کارتاژ دیونانی ژبی له مخی د فنیقی له کلمی څخه ژباړه شوی دی ، اوفنقیانو قرت حد شت(kart hadsht) ته نوی ښار ویل ، چی په عربی ژبه په قرطاج یا قرطاجه باندی ژباړه شوی ،او دا د هغه لرغونی نوی ښار نوم وه چی د افریقی په شمال کی کوم چی اوس د هغه په ځای کی د

تونس هیواد پروت دی موقیعت درلود ،دهمدی نوی ښار په مرکز کی دکارتاژ تمدن پیل او دتکامل پړاونه یوبل پسی سره ووهل او خپل لوړ مدارجو پوری ورسید ، دغه ښار اودغه لوړ مد نیت د هغه کوچی او په حال د تګ اوراتګ فنیقیانو په همت اوزحمت سره مینځ ته راغلی وه چی دروم دامپراطوری سره سیالی اورقابت کول ، دکارتاژد مد نیت اقتصادی زیربنا پر تجارت باندی ولاړ وه کوم چی د مدیترانی پر سیند یا بحر باندی دخپل مالتجاره کشتی دترانسپورت کامل واک اواختیار په لاس درلود ، کوم چی د رومیانو ستراتیژیک هدف داوه چی له کارتاژیانو څخه دغه واک باید ترلاسه کړی نو په همدی بنیاد رومیانو د کارتاژیانو سره په جګړه لاس پوری کړ چی ددریم جګړی څخه وروسته رومیانو وتوانید چی کارتاژیانو ته پوره ماتی ورکړی اود هغو نوی ښار او تمد ن دخاوری سره خاوری ، اوښا ر ترخپل تسلط لاندی راوړل، او پرمد یترانه شرقی باندی لاس بر شو . د کارتاژ د مد نیت زوال او دانقراض عمده فکتورونه، د ثروتمندانو د ثروت اود پانګی زیاتیوالی ، اشرافیت ، عیاشی ، اسراف او په لهو لعب کی غرقیدل دقانون څخه سرغړونه ، او د نظم له نه مراعتول څخه کولای شو نوم واخلو،بل عمده عامل دځوانانو بی میلی نطامی خدمت ته وه ، اوهغه داچی بدایانو او دولت دارانو خپل زامن عسکری خد مت ته نه لیږل او په پیسو باندی عوضی سپاهیان نیول ، یعنی د کاتاژیانو اردو په اجیر اردو باندی تبدیل شو چی د رومیا نو سره په جګړه کی دغه اجیر اردو دجنګ له میدان څخه وتښتید او رومیانو ته بریالیتوب په نصیب شو ، په هر صورت په یوهیواد یا په یوامپراطوری کی د اجتماعی فساد اساسی عوامل کوم چی هغه هیواد یا امپراطوری سقوط سره مخامخ کوی عبارت دی له :

لمړی : د معاشونو یا دحقوقو عدم تناسب اوهغه په دی معنی چی دلوړپوړو مامورینو معاشات د ټیټ رتبه مامورینو د معاشا تو په پرتله څوچنده زیات وی مثلاً په افغانستان کی



د کارتاژ یوه تاریخی منظره یا نما(دجهانی یونیسکو میراث)



د کارتاژ دپونیک ولایت

د حامد کرزی په رژیم کی . دوهم :دعامه خلکوله حده زیات تحمل اوزغم دریم :دزورواکوسره د مقابلی کمزورتیا. څلورم:دمفسد او رشوت خور سړی دمورال لوړوالی اومهارتونه. پنځم : په ټولنه کی د ملی وحدت نشتوالی ۲- فرهنګی فسا د: دا دول فساد په لاندنی څلورو برخو کی موجود وی : *-د پوهی،دانش اود تحصیل تیتوالی اویا له پامه غورځول . *- د فرهنګی بنیادونو او دهغه زیربنای اهمیت ته، نه پاملرنه . *- دودونواومنل شوی رواجونوته نه پاملرنه *- دسرمایه یا دپانګی سپما اودهغه زیاتول د(لیوی) رومی شاعر په قول : حرص اوآز له یوی خوا ، بی قیدی اوتساهل له بلی خوا رومیان دی دول فرهنګ ته وهڅول چی پیسی اوسرمایه وسپموی اوله ځانه بدایان جوړ کړی ،همدغه بدایان وه چی حرص ،آز، طمعه ، عیاشی ،او شهوت رانی دی حد ته ورسول چی په پای کی دروم امپرطوری ته سقوط ورکړل ،دغه مشابهتونه نن مونږپه رڼو سترګو پخپل هیواد افغانستان کی ګوروچی لوړ پوړی چاواکو دخوش ګذرانی دپاره دوبی ته ځی هغه خلک کوم چی مخکی سوړسوکونوته محتاج وه اود خیرات په ډوډی ژوند کول .نن همدغه بی فرهنګ خلک دی چی د بامیان بوتان الوزوی یا د افغانستان فرهنګی شتمنی د نړی په مارکیټونو کی خرڅوی چی ټولو خلکو ته څرګند او معلوم دی . ۳- اخلاقی فساد :داخلاقی فساد ترعنوان لاندنی دا لاندی دری شاخصونه دیادونی وړ موضوعات دی : * ضد اخلاقی کرکترونه * دباورونو اوعقایدو له مینځه تلل. * انسانی ارزشونه د لاسه ورکول اویا له پامه غورځول

دامریکی امپراطوری دسقوط په درشل کی لکه چی ددی لیکنی په سر کی مونږ د فساد اودهغه دعواملو په برخه کی یوڅه رڼا واچول دادی دلته غواړم چی دفساد په اړین یو څه نور اضافی خبری اومعلومات هم محترمو لوستونکو ته وړاندی کړم : په یوانسانی ټولنه کی فساد یوله خورا ډیر پخوانی عجیب

اوحیرانونکی پیښه اوپډ یده دی ،کولای شو چی فساد له مختلفو اړخونو څخه په تعریف ونیسو ، لکه د سیاستمدارانو عام ناروغی ، د عامه خلکو استثمار یا زبیښاک د لوړ مقام دولتی مامورینوپه ذریعه، له دولتی چوکی اومقامونو څخه ناجایزه ګټی پورته کول دولتی قدرت انحصارول ، مسولیت نه قبلول اوله قانون څخه سرغړونه . افلاطون یونانی فیلسوف دفساد په اړین ډیر پخوا خپل نظر داسی وړاندی کړی وه : دولتی مستبد ینوکوم چی له اساسی قانون ، له دموکراسی اودعامه نظم څخه سرغړونه کوی هغه معدود لړه کی لوړ رتبه دولتی ډلی ټپلی دی چی د خپل شوم اعما لو او مقاصدو دسرته رسول دپاره دټولنی منل شوی قوانین په نظرکی نه نیسی اوپه رازرازدسیسیوسره نورو ته ضرررسوی .

زمونږ په ننی عصر کی دا دامریکی دپانګوالو او بی انصافو ،حریصو ډلو ټپلو کړنی دی چی نه یواځی دخپل اتباعو د استثمارولو د پاره ملا تړلی ، بلکه دټول نړی دښتمنی دغارت دپاره د دموکراسی اود بشر دحقوقو تر نامه لاندی چی خپله په دی دومنل شوی اصل باندی هیڅ باور نه لری لوی خلطی ګنډ یلی دی ، اوله هر نوع بین المللی میثاقونو څخه سرغړونه کوی یا داچی له هغو مفسد و ، رشتخورو ، ظالمو ، اوضد انسانی دولتونو څخه ملاتړ کوی اوخپل دغه بد نام کړنه دخپل هیواد دګټو دخوندی سا تلوترعنوان لاندی تبلیغ او اشاعه کوی ،مثلاً هغه د اسرایل ، پاکستان جنوبی کوریا اویا دحامد کرزی دمفسد ، متخلف ،ضد ملی اوانسانی رژیم اویا دقاتلو مجاهدینو څخه په افغانستان کی اوداسی نور مفسد دولتونو څخه په کلکه ملا تړ کوی چی ټولو ته معلوم دی . مونږ په دی باندی پوره باور لرو چی امپراطوری هغه وخت نسکور شوی چی له قوانینو اودخپل اولس دغوښتنو څخه سرغړونه کړی ، لکه چی اوس یعنی په موجوده زمانه کی ګورو د امریکی د امپراطوری د زوال دری اساسی لاندنی عوامل اوفکتورونه پیژندل شوی چی نوموړی امپراطوری کندی ته نژدی کړی اویایی دسقوط په درشل کی راوستی دی چی عبارت دی له : ۱- طمع اوحرص . ۲- ډار اوتشویش ۳- جهالت اوناپوهی .




دامریکی د (۲۰۰۸) کال نظامی منطقوی لګښتونه



دامریکی د (۲۰۰۸) کال نړیوال نظامی لګښتونه

ګرچه یا سره له هغه چی دغه دری پورتنی ذکرشوی عوامل (طمع، ډار او ناپوهی) په هر ژوندی اجتماعی سیستم کی موجود وی ، یعنی له افرادو،ګروپونوڅخه نیولی بیا تر حکومتونو اودولتونوپوری .لاکن دیادونی وړ مطلب دادی چی دهرسیستم دضررمنلوپیمانه اواندازه ددری پورتنیو عواملو په کمیت او کیفیت پوری اوهم دزمان اودمکان په اوږدوالی ،ځای اودتهذ یب




ددرجی په تغیر پوری اړین وی ، په متحده ایالاتو کی طمع ،ډار اوجهالت د سرمایه داری سیستم لاندی خپل اخری پړاو ته رسیدلی دی ، ۱-طمع له هرڅه نه مخکی دامریکی دپانګوالی تولنی په مرکز کی قرار لری ، طمع د نورو ملکونو داراضی اودځمکورا نیول ، دسرمایی اود پیسو راټولول ، اوسپما کول ،طمع دقدرت او دتسلط ، طمع داصلی ارزش په منظور ، طمع د طبیعت په تسخیر کی هرهغه څه ته طمع چی لوړ ارزش ولری ، طمع داقتصادی پراختیا دانګیزی په منظور اوطمع دکمیاب او نادر باارزش شیا نو ته اوبالاخره طمع دطمع د پاره کوم چی د امریکایانو اوپه ځانګړی ډول دامریکایی ثروتمندانو یوذاتی کرکتر اووصف دی . ۲- ډار یاویره : ډار له نورو ، له خپل ځان ، دامریکی له تسخیر ، ډار پرامریکی باندی دنوروله یرغل ، ډار د تولنی دیووالی اومتحد کیدو څخه

، ډار دمارکیټونو درانیولو اود لاسه ورکولو څخه ، ډار له کمونیسم ، له اسلام ، له تروریزم ، له اقتصادی بحران ، له هستوی بمب ، له نایابو کالیو اوشیانو څخه ډار کوم چی د هغه زیات ضرورت وی لکه نفت اوانرژی ته ، بی ځایه نه وه چی دامریکی ډیرپخوانی دسړی جګړی ماهر هنری کیسنجر ویلی وه (هرڅوک چی پر انرزی باندی لاس بری ولری هغه په نور ټولو ملتونو باندی لاس بری لری ) ، نو دهمدی هدف اود همدی طمع او ډار په نظر کی نیولو سره نن متحده ایالات تقریباُ (۶۰۰۰) اتومی اوهاً یدروجنی بمبونه دتغولو د پاره چمتو کړی لاس په ماشه لری اودنړی په ګوټ ګوټ کی له (۷۰۰) زیات په مدرن سلاح سمبالی نظامی آډی لری چی دا پخپله د ډار اود حرص پوره نښی اونښانی دی لکه چی یو پوه ماهر سیاست وال ویلی دی : هرڅومره چی د امریکایانو وابستګی اوتعلقات انرژی اونفتی منابعو اوزیرمو ته زیات شی په همغه اندازه دهغوی دډار کچه دراتلونکی ژوند ددوام دپاره زیاتیږی نو دهمدی هیلی په نظر کی نیولو سره امریکا غواړی چی په (۲۰۲۰) کال کی د مینځنی ختیز دنفت او دانرژی دوه په دریم نفتی منابعو باندی تسلط پیدا کړی . ۳-
جهالت اوناپوهی : بی خبری اوناپوهی دنورو له فرهنګ او دودونو څخه ، جهالت اوغرور، دیوهاوی اودفرهنګ دسطح ټیټوالی ، دینی ، مذهبی ، نژادی تعصبات ، په ټولنه کی شعر ، ادبیات ، هنر ، فولکلور ، اوفلسفی مسایل له پامه غورځول ، د ټولنیز رسنیو د کیفیت ټیټوالی اویا دهغه انحصار د خپل شوم تبلیغاتو دپاره لکه واشنګټن پوست ، کرستین مانیتور ، نیویارک ټایم اوداسی نور . دتحقیقی او تجسسی څیړونو دمالی وجوهو کال په کال را ټیټول اوباخره په دی باندی غرور درلودل چی هرشی دامریکایانو د پاره اود امریکی هرشی دنړی دهرشی څخه ښه ، لوړ اوبهتر. دیورتنی مقالی دمحتویاتو په نظرکی نیولو سره دی ځای ته رسیږو چی د امریکی نه یواځی اقتصادی بحران ، طمع ، ډار، ناپوهی ، سیاسی فساد ، اداری فساد ، فرهنګی فساد ، غرور ، تکبر ، خوش ګذرانی ، دنورو ملکونو پر خاورو یرغل ، په ملل متحد کی د فاسدو رژیمونو پلوی او داسی ډیر نور شیطانی هلی ځلی څخه یو بل ډیر ټاکونکی شاخص اوفکتور چی دامریکی امپراطوری به حتماً په ګونډه کړی هغه د امریکی د نظامی بودجی لوړوالی د امریکی دنورو سکتورونو په پرتله دی ، که تاسی ځما لیکنی ته توجه وکړی ، ما د کارتاز د تمدن دنسکوریدومهم عامل اقتصادی بحران په ذکرورسول اوهغه داچی د مدیترانی تجارتی لاره وه چی د رومیانو په لاس کی ولویدل او د قرطاج تمدن اقتصادی بحران سره مواجه شو، یا که تاسی د انګلستان دمستعمراتو تاریخچی ته پام واړوی هغه یعنی انګریزانو ځنی خپل مستعمرا ت دبودجی اود پیسو به نه درلودلو سره دلاسه ورکړ ، نو په دی بنیاد

سره ویلی شو چی دامریکی امپراطوری دسقوط په درشل کی ولاړ دی او ډیر ګمان وړل کیږی چی ځمونږ دمنطقی په دی بل کړل شوی اور کی به وسوځی او بشریت د دی نړیوال یاغی ضرررسونکی زبرځواک څخه به په امان شی .

په درناوی

رفرنسونه :

1-wikipedia,the free encyclopedia.

2- corruption in Afghanista(UN)

3-Asia- pacific Development Journal vol.7, no 2, december 02

4-Americak university of Armenia

By:Frunzik Voskanyan nomb, 2002

5- the causes of the American the

Amperatory crises(wikipedia)

6Economic reasons for the fall of Rom.

7- world military spending (global issue, 2009)